


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

# محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 14 سپتمبر 2014 میلادی



# ولی بدگمانه شولی ؟

زه دی مین کړم ولی خپله پښیـــــــــمانه شولی؟
ګناه می څه ده ځما ګرانی چی نا ځوانه شولـــی
تاچی په ډاګه څو څو ځل ماته رخسار ښکاره کړ
په تپیدو شو ځـــــما زړګی ته پما ګرانه شولی
تا راته وایلی چی خپل زړه ښکاره کــــــــړم
ما خو ښکاره کړ ولی ته لما پنـــــــهانه شولی
ما ویل خدایه ستا رحمت شو رڼا وخـــــــــته
کله چی ځما په سوړ تورتم کی ته روښانه شو
ښه، تا خو پخپله زما مینه کړه قبوله نو بیـــا
ولی لمانه یو نا څــــاپه ګریــــزانه شولـــی
ما خو لمن ستا وه نیولی ننواتی می کـــــړی
سترګی لمدی دی وچی نه کړلی روانه شولـــی
زه خو هیڅکله ستا په حق کی بی وفا نه ومـــه
مینه می پاکه ده، ته ولی بد ګـــــــمانه شولی
خیر که ته لاړی ، ځما له زړنه به ته لاړه نه شی
ته د محب په زړه کی پا تی جاودانـــــــه شولی

****

محب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی
www.said-afghani.org